


افغان طلوع

نبوي مرغلري

رسول الله (ص) فرمايلي دي:

ژباړه: فرشتې د جمعې لمانځه ته تولو لومړي راتلونکي کس ته د اوښ د قرباني په شان ثواب ليکي.

«رواه البخاري»

غوره وييناوي

حضرت علي "رض":

په ژبه باندي ډېر خيال ساتئ، ځکه هغه ډېره نازکه ده او د هغې ډېري نښانې غلطي وي.

د امتياز څښتن:

د کندهار اطلاعات او فرهنګ رياست

مؤسس: مولوي صالح محمد "هوتک"

په اوونۍ کي دوه واره چاپېږي

د تأسيس کال: ۱۳۰۰ لمريز، يکشنبه ۲۰/صفر المظفر/۱۴۴۶ هـ ق، ۴/وږی/۱۴۰۳ ل کال - ګڼه (۲۸)

Sunday-25-August-2024 Issue: 28

د افغانستان او ترکمنستان لوړ پوړو پلاوو د ټاپي نل ليکي د عملي کار د پيل له پاره چمتووالی بشپړ کړی

د اسلامي امارت د کابينې يو شمېر غړو او لوړ پوړو چارواکو د بهرنيو چارو وزارت د سرپرست مولوي امير خان متقي په مشرۍ يو پلاوي د چهارشنبې په ورځ د ترکمنستان د وزيرانو شورا او د بهرنيو چارو وزير رشيد مردوف په مشرۍ، د هغه هيواد د لوړ پوړو چارواکو له پلاوي سره د دواړو هيوادونو په ګډه پوله وکتله.

په دې کتنه کي دواړو لورو په تورغونډۍ کي د اوسپني پټلۍ له سټېشن، ټاپي نل ليکي او د ټاپ بر برېښنا له لويو پروژو څخه د ګډي پولي يوې او بلي غاړي ته ليدنه وکړه او د ټاپي نل ليکي د کار عملي پيل له پاره يې د دواړو لورو چمتووالی وآرزاوه.

د بهرنيو چارو وزارت سرپرست په دې کتنه کي ترکمنستاني لوري ته ډاډ ورکړ، چي د افغانستان



حکومت اړوندو ارګانونو د افغانستان په خاوره کي د ټاپي نل ليکي د غځولو له پاره خپل چمتووالی بشپړ کړی او تيار دي چي عملي کار پيل سي او زياته يې کړه، اسلامي امارت د تورغونډۍ او سپني پټلۍ د سټېشن او همدارنګه د نل ليکي د غځولو په برخو کي د ترکمنستان ۴مخ

د شاوخوا پنځو ميليارډو افغانيو په ارزښت پروژې منظوري سوې



د رياست الوزرا د اقتصادي مرستيال ملا عبدالغني برادر اخند په مشرۍ د ملي تدارکاتو کمېسيون، د زمري مياشتي پر يوديرشمه نېټه د چهارشنبې په ورځ د شاوخوا پنځو ميليارډو افغانيو په ارزښت، د ۳۱ پروژو قراردادونه منظور او اووه نور يې تعديل کړل.

باختر آژانس ته د رياست الوزرا د اقتصادي معاونيت د مطبوعاتي دفتر د معلوماتو له مخي، د ملي تدارکاتو کمېسيون نوبتي غونډې ته ۴۰ پروژې د منظورۍ له پاره وړاندي سوې چي له جملې يې د ۳۱ پروژو قراردادونه منظور، د اوو تعديل، د يوې لغوه او د ۴مخ

لسونو ځوانانو ته د عامه پوهاوي سېمينار ورکړل سو

د کندهار په اطلاعات او فرهنګ رياست کي لسونو ځوانانو ته د دوی د وړتياوو او ظرفيت لوړوني اړوند، د عامه پوهاوي سېمينار ورکړل سو.

د اطلاعات او فرهنګ رياست د ځوانانو چارو آمر حافظ حمدالله سعيد باختر خبري آژانس ته ويلي، دغه يو ورځنی سېمينار د ښار ځوانانو ته د ځوانانو چارو آمريت او د YHDO مؤسسې په ګډه همکارۍ دائر سوی و، چي لسونو ځوانانو په کښې ګډون کړی و.

د سعيد په قول، په ياد سېمينار کي ځوانانو ته د کوچنيانو پر روزنه، تاوتريخوالي پر مخنيوي، عدالت، د والدينو پر احترام او مسئوليتونو معلومات وړاندي سول او هم د ځوانانو پر ښه راتلونکي، په ورځنيو چارو کي د دوی پر ګډون بحث وسو او ځوانانو ته وويل سول، چي د تعليم تر څنګ، په مجلسونو کي ګډون کول او په ورځنيو چارو کي د دوی د ځواني انرژۍ کارول ډېر مهم دي.

د بل خبر له مخي د کندهار اطلاعات او فرهنګ رياست او د ۴مخ

په تېرو څوورځو کي ۱۳۸ کورنۍ هيواد ته راستنې سوي دي

د کندهار ولايت د تخته پل ولسوالۍ اړوند په انځرګي کمپ کي د کډوالو د ثبت او تثبيت کمېټې مسئولينو د سه شنبې په ورځ باختر خبري آژانس ته ويلي، نن ورځ ۵۹ کورنۍ چي د کسانو شمېر يې ۳۱۴ تنه کېدی، خپل هيواد ته راستنې سوي دي.

د بل خبر له مخي د سپين بولدک له لاري په تېرو دوو ورځو کي ۳۷ مهاجري کورنۍ هيواد ته راستنې سوي دي.

د کندهار ولايت د تخته پل ولسوالۍ اړوند په انځرګي کمپ کي د کډوالو د ثبت او تثبيت کمېټې مسئولينو د جمعې په ورځ باختر خبري آژانس ته ويلي، په تېرو دوو ورځو کي ۳۷ کورنۍ ۴مخ

د اطلاعات او فرهنګ رياست مسئولينو ممتاز زده کوونکي وستايل

د کندهار اطلاعات او فرهنګ رياست مسئولينو د ۱۴۰۳ ل کال په کانکور آزموينه کي د دې ولايت درې تنه ممتاز زده کوونکي وستايل.



په مراسمو کي يې د اطلاعات او فرهنګ رئيس مولوي انعام الله سمنګاني، د پوهني رياست مرستيال مولوي اکرم شاه عاصم، د ځوانانو چارو آمر حافظ حمدالله ۴مخ

د امارتي ادارو له وياندويانو سره د همږغۍ ناسته وسوه

د کندهار اطلاعات او فرهنګ د رئيس مولوي انعام الله سمنګاني په مشرۍ د دې ولايت د امارتي ادارو له وياندويانو سره د همږغۍ ناسته وسوه.

د اطلاعات او فرهنګ رئيس په دې ناسته کي له خبرياالانو سره پر لا ډېري همږغۍ او پر يو شمېر نورو موضوعاتو خبري وسوې.

مولوي انعام الله سمنګاني وويل، خپرنيز مواد بايد پر وخت نشر سي او ټول خبرياالان بايد د افغانستان د اسلامي امارت ټرمينالوژي په خپلو راپورونو کي په پام کي ونيسي.

وروسته د ادارو وياندويانو هم خپل نظرونه شريک کړل او ويې ويل، له خبرياالانو سره پر وخت هغه مواد شريکوي، چي بايد خپاره سي.

په کندهار کي به ۵۵۰۰ کورنۍ پاکو اوبو ته لاس رسی پيدا کړي



په کندهار کي د ۴۰۵ ميليونه افغانيو په لګښت، د پاکو اوبو درې لويي برمې وهل سوي، چي ورسره به ۵۵۰۰ کورنۍ پاکو اوبو ته لاس رسی پيدا کړي.

د کندهار زون د ښاري اوبو رسولو او فاضلابو ۴مخ

له زرونو بزګرانو او بې وزلو سره کسانو سره مرسته کېږي

په کندهار کي له ۳۶۹۰۰ بزګرانو سره د غنمو د اصلاح سوي تخم او کېمياوي سري د مرستي په موخه سروې روانه ده.

د کرهڼي رياست مطبوعاتي مسئول محمد حنيف حقمل د چهارشنبې په ورځ باختر خبري آژانس ته ويلي، د کرهڼي، اوبو لګولو او مالدارۍ رياست تر رهبرۍ لاندي د ملګرو ملتونو د بشري مرستو نړۍوال سازمان (FAO) له لوري د اکتيډ (ACTED) او (WHO) سازمانونو په تطبيقي همکارۍ د کندهار ولايت په ۱۹ ولسواليو کي له ۳۶۹۰۰ بزګرانو سره د غنمو اصلاح سوي تخم ۴مخ

مرګ ته تياری!

محمدنبي "سلطاني"

هر انسان په دې پوهېږي، چي هر څه له منځه ځي، هر څه تېرېدونکي او هر څه فناء کېدونکي دي؛ خو په دې بيا نه پوهېږي چي کله فناء کېدونکي او له منځه تلونکي دي، دی، نور انسانان، حيوانات او نور مخلوقات به چېري مري، څه وخت به د مرګ قاصد ورته راځي او په کوم ځای او کوم حالت کي به د روح امانت خپل مالک ته سپاري.

الله جل جلاله فرمايي:

ژباړ: او نه پوهېږي چي په کومي مځکه کي به مري.

په لاندنيو آيتونو کي بيا فرمايي:

ژباړه: هر نفس د مرګ د خوند څکونکی دئ.

په بل ځای کي فرمايي:

ژباړه: هر نفس د مرګ (د خوند) څکونکی دئ، بيا زما لوري ته راګرځول کېږئ.

د پورتنيو آيتونو څخه دا خبره څرګنده سوه، چي مرګ يو يقيني حقيقت دئ، هيڅوک ورڅخه خلاصون نه لري، ښايي يوه ورځ به داسي راسي، چي نه به دا لمر وي او نه سپوږمۍ، نه به دا مځکه وي او نه آسمان، نه به دا کور وي او نه به دفتر، نه به شتمني وي، نه به قدرت، نه به نوم وي، نه شهرت، نه به جنګ وي او نه جګړه، نه به بغض وي او نه کينه، نه به کرکه وي او نه محبت، نه به دوستي وي او نه دښمني، نه به اميد وي او نه به هيله، يعني دا چي د دنيوي ژوند حساب او کتاب به مو تړل سوي وي، د خپلو برياوو او ناکاميو له ليست سره به د لوی څښتن رحم او کرم ته اړ يو، موقف، جنس، رنګ، نژاد او ... به مو هيڅ د اهميت وړ نه وي، بلکي يوازي به مو نېک او غوره عملونه د اهميت او ارزښت وړ وي.

راځئ! د هغه ورځي له پاره پوره آماده ګي ونيسو، چي تلپاته او دائمي ده، دا ورځ لوی او کوچنی، ښايسته او بدرنګه، مغرور او عاجز او... نه ګوري، بلکي دا ټول انسانيت تر خپلي ولکې لاندي راولي او هيڅوک د دې ورځي له منګولو خلاصون نه لري، ځکه که څوک د مرګ له منګلو څخه ژغورل کېدای، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم او تر ده مخکي پيغمبران او وروسته صحابه کرام به ژغورل سوي وای. بې له شکه له مرګه خلاصون نسته.

قرآنکريم دغه ورځ خورا سخته انځور کړې او الله جل جلاله فرمايي:

ژباړه: هغه ورځ چي دا مځکه به له دې پرته په بلي مځکي بدله سي او آسمانونه هم او (ټول به) د يوازني ډېر برلاسي الله په وړاندي راڅرګند سي.

دغه ورځ چي هر څه به يې، نوي وي، هغه ورځ ده چي له انسانانو سره حساب په کښې کېږي، عملونه يې تلل کېږي، څوک چي د جنت مستحق سي، جنت ته او څوک چي د دوږخ لايق وي، دوږخ ته به ځي، الله جل جلاله فرمايي:

ژباړه: او خبره داده بله نه ده، چي د قيامت په ورځ به خپل اجر په بشپړه توګه ترلاسه کوئ، نو څوک چي له اوره وژغورل سو او جنت ته ننوتی، بې شکه چي بريالی سو او د دنيا دا ژوند خو له خطاايستونکي متاع پرته بل څه نه دئ.

آيا موږ د دې ورځي له پاره چمتو يو؟ آيا موږ د دې ورځي له پاره آماده ګي نيولې؟ آيا موږ د دې ورځي له پاره لاس په کار سوي يو؟ که سوي يو؛ څنګه؟! غوره لمونځ مو کړی، غوره روژه مو نيولې، غوره مال مو صدقه کړی؟ د خدای د مخلوق په ښه ورغلي يو؟ له خدای سره مو پر کړو وعدو وفا کړې او داسي نور. که يا د غفلت په خوب بيده يو، د خپلو خواهشاتو په لومه کي نښتي او د خپل نفس په اشاره روان يو.

الله جل جلاله خپل نعمتونه، د آخرت ښې او ښادۍ د متقيانو او پرهېزګارانو له پاره ځانګړي کړي او عذابونه د نافرمانو او سرکښو له پاره دي.

الله جل جلاله فرمايي:

ژباړه: هغه ورځ چي نه مال ګټه رسولای سي او نه زامن، مګر هغه چا ته چي له روغ زړه سره راسي او جنت به متقينو ته نژدې کړای سي او دوزخ به لار ورکو ته څرګند کړای سي. ۴مخ



د طلوع افغان خبري

لوړې زده کړې وکړئ؛ آینده جوړه کړئ!

زموږ د هیواد ځوانان ډېر کارنده خلک دي، ډېر ښه ذهنونه لري، که یې پر استعدادونو کار وسي او ښه وروزل سي، نو ډېر مستعد خلک به ور څخه جوړ سي.

د شکر ځای دئ چې اوس زموږ په هیواد کي د ځوانانو د روزلو او تعلیم یافته کولو له پاره ډېر ښه فرصتونه برابر دي، د هیواد په زیاتو ولایتونو کي پوهنتونونه فعال دي او د ځوانانو پر استعداد جوړوني کار کوي.

د افغانستان پر نورو سیمو سربېره، په جنوب لوېدیځه حوزه کي هم پر دولتي پوهنتونونو او علمي مرکزونو سربېره، خصوصي یې هم فعال دي، خو له بده مرغه باید ووایو، چې په دې حوزه کي خصوصًا د کندهار ولایت ځوانان تر ډېره حده د لوړو زده کړو سره علاقه نه لري، لوړي زده کړي خو لا پر لویه لاره پرېږده، داسي ډېر پلرونه سته، چې په خپل اولاد باندي مکتب لا هم نه وایي.

یوه خبره چې باید په ټینګار سره یې ووایو، دا ده تعلیم او لوړي زده کړي د انسان ژوند او آینده جوړوي، که څوک علم ولري، کولای سي چې د ژوند پر نورو چارو سربېره آن په تجارت کي لا تر ډېره حده بریالی وي.

موږ که فکر وکړو د نړۍ شتمن خلک ټول یې تعلیم یافته قشر دئ، هغه څوک چې چټک پرمختګ کوي، په لږ سرمایه ډېري پیسې ګټي، ډېري لویي کمپنیاني او لوی تجارت په یوازي سر سمبالوي، دا زیات تعلیم یافته خلک دي.

د کندهار ځوانانو ته وایو چې علم وکړئ، که لږ امکان ولري، لوړي زده کړي هم وکړئ، تر څو خپل راتلونکی جوړ او ښایسته کړئ!

یو تنکي ځوان چې د ولسوالۍ څخه راغلی و، یو متعلم هلک ته وویل، چې ته ګرده ورځ په درسونو اخته ئې، یوه افغانۍ عاید نه لرې، خو زه دا دی، د بل په باغ کي پوجي کوم، د ورځي ښه ډېري پیسې راکوي.

متعلم هلک کشر و، د ده جواب یې ور نه کړ.

د دې خبري له پاره یو ډېر ښه جواب سته، هغه دا چې که یو هلک یا نجلۍ یو کور فرض کړو، کوم هلک یا نجلۍ چې تعلیم کوي، داسي دئ، لکه د کور دېوالونه چې له سنګ کاري او پخو خښتو څخه جوړېږي، سیمنټ په کښي کارېږي او ښه کلک جوړېږي، بیا دا کور دومره قوي او مضبوط جوړېږي، چې په سل کاله نه خرابېږي، د هر ډول باد و باران مقابله کولای سي، خو کوم هلک یا نجلۍ چې تعلیم نه کوي، داسي دئ، لکه یو کور چې له اومو خښتو او خټو څخه جوړ کړل سي، چې ډېر لږ دوام کوي او د باد و باران په مقابل کي ډېر مقاوم نه وي.

یعني د پخو خښتو او سنګ کاري کور ښایي په ډېر وخت جوړ سي، خو همدومره ډېر وخت دوام او مقاومت هم کوي، اما د اومو خښتو او خټو کور ښایي په ډېره کمه موده کي جوړ سي، خو د سختو شرائطو په وړاندي ډېر دوام او مقاومت نه سي کولای.

تعلیم انسان خودکفا کوي، انسان ته په آینده ژوند کي له لوړو او ژورو سره د مقابلې توانایي ور کوي. اداره

(سي. آی. اې) او (ایف. بي. آی) څه ډول استخباراتي شبکې دي؟

راټولونه: حاجي عبدالله "ذاکري"
دوهمه او وروستۍ برخه

کله چې د امریکا ولسمشر جان آف کینډي د صیهونیستي خفیه ایجنسي (موساد) له خوا ترور سو، نو جیمز اینګلټون چې دغه مهال د سي. آی. اې مشر و، د ایف. بي. آی مرسته هم جذب کړه او کوښښونه یې وکړل، چې موساد د کینډي د وژلو د ترور څخه وژغوري، په آخر کي په دې هلو ځلو کي بریالی هم سو او دغه وژنه یې د روسانو پر جاسوسي سازمان (کې. جي. بي) ور واړوله، له دې امله جیمز اینګلټون په یهودي کړیو په تېره بیا، د (موساد) په جاسوسي اداره کي ډېر محبوبیت تر لاسه کړ، دی د موساد د بنسټ ایښوونکو څخه بلل کېږي او د موساد د معنوي پلار په نامه هم یادېږي.

کله چې په ۱۹۷۴ مېلادي کال ویلیم کولبي نومي د سي. آی. اې مشر وټاکل سو، نو اینګلټون یې د سي. آی. اې څخه وایستی، له دې څخه معلومېږي چې اسرائیل په سي. آی. اې کي دومره نفوذ لري، چې آن د امریکا د ولسمشر وژنه چې د دوی په لاس سوې وه، لا د دې سازمان په ملاتړ پر نورو تاوان سوه.

د (سي. آی. اې) سازمان د ویلیم کولبي په مشرۍ د ویټنام د جګړې پر مهال ۱۹۴۷ او نورو ۱۹۷۱ مېلادي کلونو ترمنځ، یو څلوېښت زره ویټنامي بندیان تر تېغ تېر کړل، د دې جملې څخه د شلو زرو پنځه سوه اووه اتیا پر وژنو باندي په خپله ویلیم کولبي د امریکا د کانګریس په وړاندي اعتراف وکړ، له دغو ویټنامیانو څخه یې ځیني د الوتکو څخه مځکې ته وغورځول، ځیني یې په ځړولو ووژل، ځیني یې د برېښنا په کرنټونو ووژل او د ځینو په سرونو کي یې مېخونه ټک وهل.

دغه خبري په ۱۹۷۲ مېلادي کال د امریکا د کانګریس په وړاندي د شاهدانو په شاهدي را سربېره سوې، دغه راز سي. آی. اې د امریکا د شومو ګټو د تر لاسه کولو په موخه، د ځینو هیوادونو ستر کلیدي شخصیتونه هم وژلي دي.

په ۱۹۶۰ مېلادي کال د ډومینیکن ولسمشر رافایل ټروجیلو د امریکا د ګټو خلاف سر پورته کړ، فوراً (سي. آی. اې) هغه د ۱۹۶۱ مېلادي کال د می میاشتي پر دېرشمه نېټه د کور په مخ کي په داسي حال کي چې په خپل موټر کي سپور و، وواژه.

کارپوهان د پاکستان د واکمن جنرال ضیاءالحق په وژلو کي د (سي. آی. اې) لاس لرل، هم له امکانه لیري نه ګڼي.

همداشان سي. آی. اې د کانګو د ولسمشر لوم معبا په خوړو کي په زهرو اچولو سره د هغه د وژلو کوښښ کړی و.

په تېرو درو لسیزو کي د سي. آی. اې ګمارلو اشخاصو څو واره په بېلابېلو طریقو د کیوبا د مشر فیډل کاسټرو د وژلو هڅي کړي دي، خو بریالي سوي نه دي.

د سعودي عربستان د پخواني پاچا ملک فیصل په وژلو کي هم د سي. آی. اې لاس و، پر دې سربېره (سي. آی. اې) د خپلو شومو موخو له پاره نازي ساینس پوهان په خپلو لیکو کي وګمارل. د برما، ټایلېنډ او لاؤس د هېروئینو له قاچاق وړونکو سره یې اړیکي ټینګي کړې، په چیلي هیواد کي یې د ټولټاکنو له لاري د منتخب ولسمشر سلواډور حکومت را وپرځاوه. په افغانستان کي یې د تاریاکو او وسلو قاچاق وړونکو او خپلو ګوډاګیو سرېو وژونکو ته په کلونو- کلونو هر ډول مرستي ورکولې او ډېر افغانان یې د خپلو جاسوسانو او ډېر مجاهد افغانان یې د خپلو جاسوسانو او ګمارلو کسانو په واسطه ووژل.

په ګواتیمالا او سلواډور کي یې هم وژونکي پولیس وروزل. سي. آی. اې په ګواتیمالا کي پوځیان بغاوت ته وهڅول او د دغه هیواد د منتخب ولسمشر جیکو بوګز من حکومت یې د ۱۹۵۴ مېلادي کال په جون میاشت کي را وپرځاوه او د ده پر ځای یې کرنیل کارلوس ارماس د دې هیواد د ولسمشر په توګه وټاکی، چې بیا تر څلوېښتو کلونو پوري په ګواتیمالا کي د پوځي واکمنو له خوا د بې رحمیو، تښتوونو، عام وژنو او ډول- ډول وژنو نورو ظلمونو په پایله کي کابو دوه سوه زره وګړي ووژل سول، چې دا په شلمه پېړۍ کي د ډېرو بدو او غیر انساني کړنو بېلګه کېدای سي.

د پوځي بغاوت له پاره داویل کېدل، چې ګواتیمالا شوروي اتحاد ته نژدې سوې وه، خو حقیقت دا و چې روسان دغه کوچني هیواد ته پام نه لري، چې له هغه سره سفارتي اړیکي ټینګي کړي. اصلي خبره دا وه چې د ګواتیمالا واکمن جیکو بوګزمن د امریکا د مېوې د یوې شخصي کمپنۍ د یوې شاړي مځکي یوه برخه لاندي کړې وه، څنګه چې د دې کمپنۍ څښتنانو له امریکایي واکمنو سره نژدې اړیکي درلودې، نو یې د ګواتیمالا د واکمن د غوږ پېچلو له پاره چټک غبرګون اړین وباله او د دغه هیواد بې وزلي او بې ګناه خلک یې داوړدو کلونو له پاره په دغسي ناولي حرکت اخته کړل.

د سي. آی. اې د پورتنیو جنایتونو په اړه ورکول سوي دولتي تفصیلات د واشنګټن په محرمو اسنادو کي موجود دي، دا چې سي. آی. اې د مخدره موادو په کاروبار او قاچاق کي څومره لوی لاس لري، د خپل هیواد خلک په لوړه کچه په نشو اخته کوي، نو د دې ادارې به د نورو مملکتونو له خلکو سره څه حال وي؟

البته! د سي. آی. اې کلنی لګښت دېرشو میلیارډو ډالرو ته رسېږي.

په ۱۳۸۶ لمریز کال د کب پر درویشتمه نېټه، د مجاهدینو په فدایي حمله کي په کابل کي د هوایي میدان پر غځېدلې لاره د سي. آی. اې پر دوو عرادو شورلیټ موټرونو حمله کي ټول سپاره کسان د جهنم کندي ته ور ټېله سول، کله چې د نهمي حوزې پولیس او امنیتي کسان د پېښي ځای ته ورسېدل، په سوځل سوو موټرونو کي په زیاته اندازه د هېروئینو خلطې پرتې وي، چې وروسته د امریکا د سفارت په مداخله پاشل سوي کڅوړي بیرته سفارت ته یووړل سوې.   پای

رشتې ورکول

اسامه جوهري

خانداني مسائل او لور خور ورکول یا رشته غوښتل ډېري باریکیه مسئلې دي.

ځیني خلک د یو چا اروپایي توب ته ګوري او رشتې ورکوي، خلک فکر کوي چې ولا فلانکی په خارج کي دی او تر واده وروسته به میلیونران سو، بیا چې رشته ورکړل سي، نجلۍ په کلونو- کلونو ناسته او هلک په خارج کي یا بله وکړي یا بېغمه چکرونه وهي، دلته نجلۍ پلار کره زړه کړي. ډېر وخت داسي هم سوي چې نجلۍ اته- لس کاله انتظار کړي او بیا وروسته هلک طلاق ور ته راولېږي.

ډېر کم داسي ودونه مثبتو نتیجو ته رسېدلي، د یو چا په خارج کي اوسېدل، کله هم د هغه د ښه انسان کېدو معیار نه وي، باید اصل معیارونو ته وکتل سي او بیا هلک وطن ته راوغوښتل سي او دا شرط پر کښېښوول سي چې اول به د پاسپورټ او ویزي کار کېږي، بیا به نکاح او واده کېږي او یا دي هلک همالته خارج کي کوم مسلمان خاندان سره رشته وکړي.

د دې نه علاوه اغلب صورتونو کي د نجلۍ تباهي ده.

ځیني وخت زیات ولور ته وکتل سي او نجلۍ ورکړل سي، په داسي صورتونو کي د نجلۍ پلار له خپلې لور سره زیاتی کوي، اکثره وخت د هلک اخلاقو او شخصیت ته نه کتل کېږي، بلکي یوازي د پیسو له پاره د خپلي لور ژوند له تباهۍ سره مخ کړي، د هلک په زړه کي هم وقار کم کړي، بلکي ډېر وخت هلکان په کلونو- کلونو د ایران مسافر سي، تر څو د کاکا خسر لمنه د حرامو نه ډکه کړي.

ځیني وخت په خاندان کي یو شخص یا ښځه د څلورو کسانو په نومونو کي ضد واخلي چې ولا فلانکي ته یې ورکوم یا فلانکۍ نجلۍ خپل زوی ته کوم، چې کله هم خبره داسي سرټمبه توب ته ورسېږي، وروسته یې منفي نتائج راوځي. رشتې کول ډېر باریک کار وي. په دې کي زور وهلو یا ضد کولو ته هیڅ ضرورت نه وي، که په کوم ځای کي په آرامه رشته نه کېدله، نو مه یې کوئ، د یو چا په زړه کي په زور احترام نه اچول کېږي، سبا به د یو چا لور- خور جسما کور ته راولئ، خو په زور کله هم د هغې زړه نه سي خپلېدلای، چې کله هم په رشتو کي خبره زور ته وتله، لیري ځني تېرېږئ، په حیا او عزت کي هغه ځای پرېږدئ.

ځیني خلک د یو چا منصب او چوکۍ ته وګوري چې ولا ولسوال دئ، والي دئ، پاسوال دئ، ډګروال دئ یا بل منصب دار دئ، نور د هغه اخلاقو، عمر، ایمانداري او شخصیت ته نه کتل کېږي، حال دا چې نجلۍ د منصبدار په کور کي څومره خوراک کوي، د عام شخص په کور کي یې هم هغومره خوري، خو دا بې ځایه حرص او غټو خلکو ته په تمه- تمه کېدل، بد عادت دئ، بلکي سپک عادت دئ.

نو له دې امله احتیاط په کار دئ، په خپلو کورونو کي یو څه اصلاحات راوستل په کار دي، د رشتې په کارونو کي د دواړو طرفونو ترمنځ رضامندي په کار ده، د نارینه مسئولیت دئ چې ښه په اخلاص د هلک کورنۍ او اخلاق مطالعه کړي، بیا د خور- لور رضامندي ته وګوري او تر هغه وروسته په مناسبه طریقه رشته ورکړي او همدا راز پر هلک باندي هم زور یا فشار راوستل نه دي په کار، بلکي ځیني مېندي دا غلطي کوي چې خپل اولادونه په یوه رشته ګرم کړي، سم صفتونه یې ور ته وکړي او منفي جهتونه یې پټ کړي، هلک هم په ذهن کي نقشې جوړي کړي، خو چې واده وسي، بیا کیسه بدله وي.

د هلک له پاره باید معیارونه: ایمانداري، اخلاق، د بدن سالمیت او د یو څه مناسبي نفقې پیدا کول وي.

د نجلۍ له پاره معیارونه باید: ایمانداري، اخلاق، د بدن سالمیت او کورنی تربیه وي.

د شیطان لښکر

د خوارجو نوې څېره (داعش)

خوښونه: شهید شیخ رحیم الله "حقاني"

(۶۴) برخه

بیا رسول کریم صلی الله علیه وسلم د اوس او د خزرج قبیلې سرداران سعد بن معاذ او سعد بن عباده را وغوښتل، له هغوی سره یې پټه مشوره وکړه، عیینه هم ناست و، و یې ویل: تړون ولیکی، نو د الله تعالی رسول صلی الله علیه وسلم کاغذ او دیوات را وغوښتل، دې دواړو سردارانو رسول الله صلی الله علیه ته وویل: یا رسول الله! آیا په دې اړه تاسو ته وحی سوې ده؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: نه! خو ما چې ولیدل چې ټولو عربو زموږ پر خلاف ائتلاف جوړ کړی دئ، نو ما فکر وکړ، چې ځیني په دې توګه له ائتلاف څخه وباسم، نو دوی دواړو وویل: یا رسول الله! په الله قسم! دوی ته د جاهلیت په وخت کي له لوري څخه غټ-غټ هډوکي خوړلي دي او موږ څخه یې کوجورې یا اخیستي او یا یې په مېلمستیا کي خوړي په بل ډول یې را څخه نه دي ترلاسه کړي، نو چي کله الله تعالی موږ ته په اسلام سره عزت را په برخه کړ او ستاسو په سبب یې هدایت را ته نصیب کړ، نو آیا موږ به په دې کي سرټیټی وزغملای سو؟ موږ دوی ته له تورو پر ته بل هیڅ نه ورکوو. نو رسول الله صلی الله علیه وسلم د سولي خط څیري کړ او ورته ویې ویل: ځئ ولاړ سئ! موږ تاسو ته له تورو پر ته هیڅ شی هم نه در کوو! له دې نه په ډاګه سوه، چې د اړتیا په وخت کي د مال په بدل کي صلحه جایزه ده.

د داعش نیوکه:

دا منو چي د امریکا پر خلاف په افغانستان کي جهاد کوئ، خو له نورو کفري هیوادونو سره ولي ناسته-پاسته او اړیکي ساتئ او خبري ور سره کوئ؟ دا اعتراض د داعش له لوري پر نورو جهادي ډلو لکه: هیئت التحریر الشام او نورو باندي هم کېږي.

جواب: ځکه چي له هغوی سره معاهدې سوي دي، دا چي له دوی سره اوربند سوی، نو دا د ترک جهاد په معنی نه دئ، ځکه چي امام محمد رحمة الله علیه له کفارو سره اوربند او تړون ته معنوي جهاد ویلی دئ. اوربند هم په معنی کي جهاد دئ او د جهاد له تدبیرونو څخه دئ، ځکه چي پر مجاهد باندي لومړی د خپل قوت ساتنه کول لازم دئ او وروسته که امکان لري، نو فتحه او بری دي ترلاسه کړي. زیات وختونه په اوربند سره د مسلمانانو قوت او زور خوندي ساتل کېږي. بیا ځیني دا نیوکه کوي، چي سورة برائت یا سورة توبه وروستني نازل سوی دئ، د سولي او اوربند حکم په سورة الانفال کي راغلی دئ او د وروستني سورة حکمونه د لومړي سورة احکامو له پاره ناسخ او په سورة توبه کي یوازي د جزیې یا وژلو حکم راغلی دئ. نو امام جصاص همدې نیوکي ته په کتلو سره لیکي:

ژباړه: د علماوو په دې کي هیڅ اختلاف نسته. سورة برائت چي له کفارو سره د قتال حکم په کښي راغلی دئ، په آخر کي نازل سوی دئ او سورة الانفال د سولي یادونه په کښي سوې ده، د بدر تر غزا وروسته نازل سوی دئ. په همدې سورة کي د غنیمتونو او تړونونو احکام راغلي دي، خو سورة برائت د سورة الانفال له پاره ناسخ نه دئ، په سورة برائت کي د قتال حکم پر خپل ځای دئ او په سورة الانفال کي د مشرکانو له لوري د سولي د وړاندیز په صورت د سولي حکم پر خپل ځای دئ. د حالاتو د اختلاف له امله د آیتونو حکم هم بدل-بدل دئ.

د اوربند او سولي حکم هغه وخت دئ، چي مسلمانان کم وي او کفار زیات وي، نو د جنګ حکم هلته دئ، چي مسلمانان زیات وي، خو آیا له کفارو سره سوله هر څوک کولای سي او که دا یوازي د امام یا د هغه نائب کار دئ؟

د جمهورو فقهاوو په دې خبره سره په یوه خوله دي، چي معاهده او سوله یوازي امام یا د هغه نائب کولای سي، خو د یوې سیمي والي یا سرپرست د کافرانو سره د مصلحت پر اساس، معاهده کولای سي، ګواکي هغه د خپلي سیمي په اړه خپلواک دئ، خو شرط دادی چي مصلحت به وي.

(جواهر الاکلیل جـ۱ صـ۱۶۹) او نور کتابونه

په دې اړه د احنافو رأیه داده چي له کفارو سره معاهده کول، یوازي تر امام یا نائب پوري تړاو نه لري، بلکي د مسلمانانو یوه ټولۍ د امام د اجازې پر ته هم له کفارو سره معاهده کولای سي، ځکه چي د صلحي بنیاد مصلحت دئ، نو سوله رواده، چي کله د مسلمانانو خیر په کښې وي.

(عالمګیري جـ۲ صـ۱۹۶)

فقهاوو د سولي او اوربند له پاره مصلحت او ګټه شرط ټاکلی دئ، په ټولو معاهدو کي دا شرط دئ، چي د مسلمانانو ګټه به په کښې وي، د دې معاهدې اړتیا به وي، مسلمانان به کمزوري وي او کفار به په دنیوي لحاظ زورور وي او مسلمانان به د خپل ځان د هلاکت بیره ځکه لري، چي یا خو به زور نه لري یا د نورو وجوهاتو له امله په اوربند کي خیر دئ.

(فتح الکبیر جـ۴ صـ۲۹۳) نور بیا...

د شمسي او قمري کال تفاوت

نوراحمد "قرآن مل"

موضوع: ستورپېژندنه Astronomy

د زماني واټن د امتداد د وقفو له پاره موږ څو ډوله واحدونه لرو چي د لمحې، ثانیې، دقیقې، ساعت، شباروز، میاشت، کال او پېړی په نومونو یې بللای سو، د دغو زماني واحدونو د صفري نقطې [المحې] او پېړی ترمنځ وسطي یا منځني واحد شباروز یا یوه شپه او ورځ کېږي، چي ۲۴ ویشت ساعتونه د طول البلدونو په عرضي امتداد تشکیلېږي، دا نجومي واحد [شپه او ورځ] د پخوانیو ستورپېژندونکو له خوا څخه داسي درجه بندي سوې وه چي د ځمکي پر محور د لمر د راګرځېدلو په دوران کي ځمکي پر خپل محور د یو وضعي حرکت دایره پوره کوي، دا ۲۴ ویشت ساعتونه زماني واحد چي تر ۷ زره نجومي کلونو ها خوا تحقیقاتي نتیجه په لاس راغلې ده، تر اوسه پوري یې زماني واټن په همهغه ستندرډ پاته سوی دئ، د ۲۴ ویشت ساعتونو په جریان کي د ځمکي دا یو بشپړ وضعي حرکت، د ځمکي او لمر د دوراني حرکتونو یا فلک څخه تشکیلېږي، چي د لمر د یو انتقالي دوران په نتیجه کي یو نجومي کال چي ۳۶۵ ورځي ۶ ساعتونه په بر کي نیسي، کله چي موږ د ځمکی او لمر د واټن په پر تله، د ځمکي او سپوږمۍ ترمنځ د واټن خبره کوو، نو د سپوږمۍ مدار ځمکي ته د لمر د مدار په پرتله نژدې او د ځمکي دوراني مدار د همدغه نژدېوالي له اسیته لنډ او په زماني برخه کي د ځمکي او لمر د فلک په پرتله، ۱۴ اعشاریه ۴۷ دقیقې د لمر او سپوږمۍ د مدارونو ترمنځ، د یو کال په جریان کي تقریبا ۱۱ ورځي زماني تفاوت راځي.

لمریز کال ۳ کاله پر له پسې د عادي کال په نوم ۳۶۵ ورځي او ۶ ساعتونه جوړوي چي په دې سره لومړی عادي کال ۳۶۵ ورځي ۶ ساعتونه، دوهم عادي کال چي ۳۶۵ ورځي او ۶ ساعتونه کېږي، د تېر کال ۶ ساعته چي پر جمع سي، نو ۳۶۵ ورځي او ۱۲ ساعتونه کېږي او کله چي درېیم عادي کال راځي، د تېر کال ۳۶۵ ورځو څخه اضافه ۱۲ ساعتونه چي د درېیم کال له ۶ ساعتونو سره جمع سي، نو درېیم نجومي کال ۳۶۵ ورځي او ۱۸ ساعتونه سي، کله چي د درېیم نجومي آخري ۱۸ ساعتونه د څلورم کال له ۶ ساعتونو سره جمع سي او ۲۴ ویشت ساعتونه ځني جوړ سي، ځکه نو څلورم نجومي کال ۳۶۶ ورځي وګرځي، چي په دې سره هر څلورم شمسي یا لمریز کال د کبیسه کال په نامه یادېږي، کله چي موږ د سپوږمیز کال و دوران ته حساب کوو، هغه د لمریز کال په پرتله دوام داره جریان لري، کوم ساعتي توپیر نه رامنځته کوي، دا چي د ځمکي وضعي حرکت د سپوږمیز په مقابل کي د لمر په پرتله باندي تېز دئ، ځکه نو د قمری کال یو شباروز د لمریز کال تر یوه شباروز په لږ تېز سرعت ۱۴ عشاریې ۴۷ دقیقې ژر د ځمکي وضعي حرکت پوره کوي، په دې سره نو سپوږمۍ د شمسي میاشتو په جریان کي د مهک، هلال، تربع او بدر د میاشتو په لومړیو ۱۴ نیمو ورځو کي له صفر یا سپېنسي حالته څخه د بدر یا ۱۴ په شپه تر بشپړ پوره کېدو او د لمریزي میاشتي په یوه ورځ کم واټن څخه بیرته د بشپړ حالت څخه د مهک یا سپېنسي حالت ته ځان رسوي او یوه قمري میاشت پوره کوي.

د خصوصي ښوونځیو او پوهنتونونو ارزښتونه

نعمت الله "شاکر"

۱- پر دولت باندي فشارونه کموي، ځکه ټولو کسانو ته د تعلیم او تحصیل خدمات وړاندي کول، د دولت زیات مصارف او امکانات مصرفوي.

۲- په ولس کي شتمنو کسانو ته د فیس په مقابل کي تعلیمي او تحصیلي خدمات عرضه کول، د بې وزلو له پاره د دولتي امکاناتو فارغول دي.

۳- هغو شتمنو علمي کسانو ته د پانګوني زمینه برابرېدل، چي د علمي خدماتو ذوق او استعداد لري.

۴- په مختلفو او غیر رسمي وختونو کي تعلیمي او تحصیلي خدمات عرضه کول، تر څو هر څوک په هر وخت کي تعلیم او تحصیل وکړلای سي.

۵- خصوصي ښوونځي او پوهنتونونه د خپلو عوائدو او مصارفو مالیات دولت ته ورکوي.

۶- په علمي میدانونو کي د رقابت او سیالۍ حس ایجاد او تقویه کېږي.

یادونه: د کانکور شرائطو ته آماده اشخاصو!

د خصوصي پوهنتونونو په کانکور کي په ذوق او قوت ګډون وکړئ، د وخت او امکاناتو څخه استفاده وکړئ، په خصوصي پوهنتونونو کي د زده کړو سره همهاله کار هم کولای سئ!

بله یادونه: د رسمي وظیفې له پاره زده کړي مه کوئ!

زده کړي وکړئ!

د زده کړو په بهیر کي او هم تر فراغت وروسته د خپل مسلک او تجربو پر اساس، شخصي پانګونه وکړئ!

د بې سواده اشخاصو په نسبت، باسواده اشخاص ښه پانګونه کولای او تنظیمولای سي.

شعر او آدب

د طلوع زریني وړانګي

امارت

محسن "احسان"

تاریخ به هېري نه کړي قربانۍ د امارت
ستا یې به د غیرت هسکه بګړۍ د امارت

هیبت یې لړزولي ټول کفري یاغي برجونه
پرته وه په زارو ښو کي نړۍ د امارت

جذبه لري زلمي یې د جهاد او سنګرونو
غیرت خو لا مني سپینه مانۍ د امارت

ولس ورته دعا د حاکمیت کوي له زړه نه
په ټوله دنیا غواړي دا کړۍ د امارت

کړي سیال به د جهان کندر کندر افغانستان
کاروانه دي روان په چټکۍ د امارت

در پاته امانت "محسن احسانه!" د یارانو
ایثار سوې ورته څه ګلاب ځوانۍ د امارت

غزل

محمدالله "عبرت"

څنګه دي زړه سوی پر دغي اوښکي برباد سې عشقه
دا توري سترګي او رڼې اوښکي برباد سې عشقه

یو دي زما پر زړګي ایښې ده چاړه د ښکلا
بل په ښو باندي څیرې اوښکي برباد سې عشقه

زما تر سترګو را روان دئ زما ذرې ذرې زړه
ته را ته ناست یې شمارې اوښکي برباد سې عشقه

څنګه دي زړونو کي ریښې کړي دي دلته ګوره
زه خوړ سوم توی سوې دادې اوښکي برباد سې عشقه

هغه "عبرت" چي له خندا څخه یې ښار په تنګ و
نن یې تر سترګو بهېدې اوښکي برباد سې عشقه

غزل

محمد قاسم "یار"

تعبیر دي راته شیخه د ژوند سم ښوولی نه دی
ژوند دلته بند کتاب دی بس هیچا لوستلی نه دی

یوه پېړۍ جګړه د تورو سپینو د روانه
لا تور دلته غالِب دي سپین میدان ګټلی نه دی

دعوه د سرېتوب دي لا مشروطه بولم {یاره!}
کتاب د سرېتوب دي په معن ویلی نه دی

ګلان راوړه سپرلیه! له مودو مودو راهیسي
جانان مي په اوربل کي سور ګلاب ټمبلی نه دی

د میني ترانې وایي په خپل لطیفه ژبه
واعظه تا رباب تهچیري غوږ نیولی نه دی

لا ورکه له زاهده "یاره!" لار د توبې نه ده
تر اوسه یې د سرو لبو یو جام څښلی نه دی

مســــــئول مـــديـر : ـــــــ بــريـــالـــی "فـيـضي"
د تصـحـيح مسئـــــول : ـــــــ حاجي عبدالله "ذاکري"
کمـــپوز او ډيــــزاين : ـــــــ نصير احمـد "صــابر"
د مــــديريت شمېره : ـــــــ ۰۷۰۵۶۰۸۶۷۳
د توزيع مديريت شمېره : ـــــــ ۰۷۰۰۴۹۱۴۳۶
پتــه : ـــــــ علامه حبيبي واټ – اطلاعات او فرهنګ رياست
د برېښناليک پته : ـــــــ Afghan.tolo@yahoo.com

د ګډون کوونکو له پاره خبرتيا!

د طلوع افغان تاريخي خپرونه چي د هيواد په مطبوعاتي تاريخ کي ځانګړی ځای لري. که غواړئ چي د لمريز کال په آخرکي د طلوع افغان تاريخي ورځپاني يو بشپړ کلکسيون ولرئ، نو په طلوع افغان ورځپانه کي ګډون وکړئ.

د ګـډون کلنی بيـه ۵۰۰- پنځـه سـوه افغانۍ، زده کوونکـو او محصلينو ته د تصديق په وړانـدي کولـو سـره نيمـه بيـه ټاکل سوې ده. اداره

Tolo E Afghan Journal

طلوع افغان مديريت له ټاکلي ليکنيز معيار سره سم، د ليکنو په اصلاح کي د لاسوهني حق لري.

ګرانو لوستونکو! په ډېر احترام هيله کېږي، چي دا سپېڅلي پاڼي بې ځايه و نه غورځوئ!

Established in 1300 Hijri — ISSue: 28 — Founded in 1921

اعلانونه او خبرتياوي

په قرارداد يې ورکوي

د سپين بولدک ښاروالي غواړي چي د ۱۴۰۳ مالي کال له پاره له انکشافي پلان سره سم، د بولدک ولسوالۍ ښارغلي په سيمه کي د برمو د اوبو راغونډولو له پاره ذخيره او کانال جوړ کړي. ټول هغه شرکتونه چي د دې قرارداد د سرته رسولو وړتيا ولري او پر شرايطو برابر وي، کولای سي، چي خپل غوښتنليکونه د ۱۴۰۳ ل کال د زمري مياشتي د اتلسمي نېټي څخه بياد روان کال د وږي مياشتي تر څوارلسمي نېټې تر چهارشنبې ورځي پوري، د سپين بولدک ښاروالۍ او ولايت مقام ته وسپاري او داوطلبي د ۱۴۰۳ ل کال د وږي مياشتي پر پنځلسمه نېټه، د پنجشنبې په ورځ د سهار پر لس بجې، د تعين سوي هيئت په حضور کي د کندهار ولايت مقام اداري او مالي رياست اجرائيه مديريت کي صورت نيسي.

په کرايه يې ورکوي

د احمد شاه بابا نړۍوال هوايي ډګر رياست غواړي چي د هوايي ډګر رياست مربوط، په ترمينل کي داخل د بسته بندۍ ماشين د اېښولو له پاره اووه متره مربع ځکه د آزادي داوطلبۍ له لاري د يو کال له پاره په کرايه ورکړي. هر هغه حکمي يا حقيقي اشخاص چي پر شرايطو برابر وي، کولای سي چي د اعلان د نشر د نېټې څخه بيا تر لسو ورځو پوري خپل غوښتنليکونه د هوايي ډګر رياست تـه وسپاري او د مبلغ ۰/۳۰۰۰– درو زرو افغانيو په بدل کي چي بيرته نه ورکول کېږي، شرطپاڼه کتلای سي.

اعتبار نه لري

محمد اسماعيل د ګل احمد زوی د انفرادي جواز مالک چي د جواز شمېره يې (6736-27) ده، ورک سوی، اعلان تر نشر وروسته اعتبار نه لري.

د اعتبار وړ نه دی

عبدالله د حاجي نظرمحمد زوی د تجارتي انفرادي جواز مالک چي د جواز شمېره يې (6340- 27) ده، ورک سوی، د اعلان تر نشر وروسته د اعتبار وړ نه دئ.

(۱) مخ پاته: **د افغانستان او ترکمنستان...**

ورکړي دي چي بايد کلکه ساتنه يې وسي.

د بهرنيو چارو وزارت سرپرست مولوي امير خان متقي د آزادۍ پر ارزښت او د ساتني پر لارو – چارو خبري وکړې او ويې ويل، آزادي په توره، همت او قربانيو اخيستل کېږي او آزاد ولسونه هغه کسان دي چي د خپلواکۍ خوند يې څکلی وي او هيڅکله غلامي و نه مني.

د ملي دفاع وزارت د مسلحو قواوو لوی درستيز قاري فصيح الدين فطرت وويل، د زمري ۲۸ په داسي حال کي لمانځنه کېږي چي افغانستان په بشپړه توګه خپلواک دی او د هيچا فرمايشونه نه منل کېږي او ټولي چاري په خپلواک ډول تر سره کېږي.

د غونډي ويناوالو د مشرانو پر اطاعت، د نظام پر ساتني او استحکام، د ملت او حکومت پر نژدېوالي او له خلکو سره د مجاهدينو پر ښه چلند ټينګار وکړ او له هيوادوالو يې وغوښتل چي د واکمن اسلامي نظام بشپړ ملاتړ وکړي او د امنيت د لا ښه ټينګښت له پاره دي د اسلامي امارت له ځواکونو سره همکاري وکړي، ترڅو د افغانانو ترمنځ ملي يووالی لا پياوړی او د هيواد د دښمنانو دسيسې شنډي سي.

(۱) مخ پاته: **د شاوخوا پنځو ميلياره...**

يوې پروژې د قرارداد د قيمت په اړه اړوند ټاکل سوې کمېټې ته د نده سپارل سوې چي له قراردادي شرکت سره بيا مذاکرات تر سره او خپل راپور د ملي تدارکاتو کمېسيون مشرتابه ته وړاندي کړي.

په منظور سوو او تعديل سوو پروژو کي په بادغيس ولايت کي د آبګردان ذخيروي بند د پاته چارو بشپړول، د نغلو برېښنا توليدي فابريکې د يو توربين بيارغونه، په بېلابېلو ولايتونو کي د برېښنا اړوند وسايلو چمتو کول، هيوادوالو تـه د باکيفيتـه او چټکـو مخـابراتي او انټرنيټـي خـدمتونو وړاندي کول، د هيواد په بېلابېلو ګمرکونو کي د خدماتو وړاندي کول، د بادغيس ولايت په قلعه نو ښار کي د اوبو رسولو لويي شبکې بشپړول او يو شمېر نوري پروژې شاملي دي چي د اسلامي امارت له لوري تمويلېږي.

(۱) مخ پاته: **د اطلاعات او فرهنګ رياست...**

سعيد، د يونسيف نړۍوال سازمان مسئولينو، د ملي راډيو – ټلويزيون آمر مولوي رفيع الله احسان، ډېرو نورو مسئولينو، ښوونکو او محصلينو د چهارشنبې په ورځ ګډون کړی وو.

د اطلاعات او فرهنګ رئيس په خپله وينا کي راغلو مېلمنو ته د ښه راغلاست تر څنګ وويل، د ځوانانو ستاينه زموږ له پاره د وياړ ځای دئ او اسلامي امارت د ښوونځيو او پوهنتونونو د شاګردانو هر اړخيز ملاتړ کوي. د دې غونډي هدف هم د ممتازو محصلينو ستايل دي، چي افغانستان د ناخوالو څخه راوتلی او د ځوانانو له پاره ښه موقع برابره ده، ترڅو مسلکي زده کړي وکړي او په مسلکي لحاظ د هيواد کمبودات پوره کړي او له ځوانانو يې وغوښتل، ترڅو په خپلو مسلکونو کي د اسلام او هيواد له پاره کار وکړي.

د پوهني رياست مرستيال بيا د اطلاعات او فرهنګ رياست له خوا د دې غونډي د جوړېدو ستاينه وکړه او ويې ويل، د ځوانانو معنوي ستايل زموږ ټولنه نوره هم ښه لوري ته رهبري کوي او له ځوانانو يې وغوښتل، چي زده کړي وکړئ، تر څو د مسئولينو له لوري بې له کوم توپيره په معنوي لحاظ وستايل سئ.

د يونسيف يو تن استازي ډاکټر امين الله امين په خپلو خبرو کي هيله وښووله، چي له ښوونځيو فارغ سوي زده کوونکي به هيواد ته د خدمت مصدر ګرځي او ولس ته به واقعي خدمت کوي، هغه د ټولني د هر کس په خاص ډول، د کوچنيانو او ځوانانو پر سالمي ودې، د ځينو ناروغيو پر مخنيوي، تداوۍ او وقايې هم خبري وکړې.

وروسته د مسئولينو له لوري د کندهار په سطحه، د کانکور آزمويني تر دريم مقام ګټونکو ځوانانو ته ستاينليکونه او هر تن ته يوه پايه ليپ ټاپ کمپيوټر ورکړل سو.

(۱) مخ پاته: **لسونو ځوانانو ته د عامه پوهاوي..**

البلال روغتيايي علومو انستيتوت ترمنځ، په ۹ روغتيايي څانګو کي د ۱۰۰ سکالرشيپونو تفاهم ليک لاسليک سو.

دغه تفاهم ليک د شنبې په ورځ د اطلاعات او فرهنګ د رئيس مولوي انعام الله سمنګاني او د البلال روغتيايي علومو انستيتوت د معاون عبدالباقي رحيمي ترمنځ لاسليک سو، چي له مخي به يې د اطلاعات او فرهنګ رياست اړوند، د ځوانانو چارو آمريت له لوري البلال روغتيايي علومو انستيتوت ته په عالي نرسينګ، عالي قابلګي، درمل جوړولو، د غاښو پروتيز، رواني روغتيا، تغذيه، انستيزيا، طبي لابرتوار او راډيولوژي په برخو کي علاقمند ۱۰۰ تنه ځوانان ورمعرفي کېږي او ياد انستيتوت به يې سمستر ته په ۱۵۰۰ افغانۍ جذبوي.

د يادولو وړ ده، چي تر دې وړاندي هم اطلاعات او فرهنګ رياست لسګونه ځوانان سبا لوړو زده کړو مؤسسې، ميرويس نيکه لوړو زده کړو مؤسسې او يو شمېر نورو مؤسسو ته د لوړو زده کړو په هدف په ځانګړي تخفيف سره ورمعرفي کړي دي.

(۱) مخ پاته: **په کندهار کي به ۵۵۰۰...**

رياست رئيس حاجي ملا پاچا يوسف د سه شنبې په ورځ باختر خبري آژانس ته ويلي، په تېرو کلونو کي د يادي پروژې کارونه شاوخوا ۸۰ سلنه بشپړ سوي وو، چي اوس يې د ماليې وزارت له خوا د ۴۰۵ ميليونه افغانيو په لګښت سره پاته ۲۰ سلنه چاري پيلېږي.

د يوسف په قول، يادي برمې د کندهار ولايت په ارغنداب ولسوالۍ کي وهل سوي، چي د ځانګړو پايپونو له لاري به د ۱۲ ناحيې ۵۵۰۰ کورنيو ته پاکي اوبه ورسوي.

(۱) مخ پاته: **له زرونو بزګرانو او بې وزلو ...**

تخم او کيمياوي سري مرسته کېږي.

د هغه په قول، د سروې د چارو تر بشپړېدو وروسته به له ياد شمېر بزګرانو سره د مرستي لړۍ پيل سي.

د کرهني رياست وياند زياته کړه، سږ کال په کندهار کي غير موسمي اورښتونه اوربدلي او بزګرانو ته يې ډېر تاوانونه رسولي، چي په ياده مرسته سره به يې ډېري ستونزي حل سي.

د بل خبره په کندهار کي د حاجي کامل په مشرۍ له بې وزلو او غريبانو سره د مرستي کولو اداره جوړه سوې، چي تر دوه زره ډېري کونډي مېرمني، يتيمان، اړمني او سوال کوونکي کورنۍ يې ثبت کړي او د يوې ځانګړې پروسې له لاري ورسره هره مياشت د نغدو پيسو او خوراکي توکو مرسته کوي.

دغي اداري د چهارشنبې په ورځ له ۳۰۰ اړو کورنيو سره د نغدو پيسو، اوړو او غوړو مرسته وکړه او دا مرستي به يې په راتلونکي کي هم دوام ولري.

مرسته ترلاسه کوونکو د مسئولينو له پاملرني مننه وکړه او ويې ويل، هره مياشت د نغدو پيسو او خوراکي توکو مرسته ورسره کېږي.

(۱) مخ پاته: **په تېرو څوور ځو کي...**

د کسانو شمېر يې ۲۱۳ تنه کېدی، خپل هيواد ته راستانه سوي دي.

همداراز د کندهار ولايت د تخته پل ولسوالۍ اړوند په انځرګي کمپ کي د کډوالو د ثبت او تثبيت کمېټې مسئولينو د شنبې په ورځ باختر خبري آژانس ته ويلي، نن ورځ ۴۲ کورنۍ چي د کسانو شمېر يې ۲۱۲ تنه کېږي، خپل هيواد ته راستانه سول.

له يادو کورنيو سره د اسلامي امارت اړوندو ادارو له خوا نغدي مرسته سوې او هم مرستندويه مؤسسو ته د مرستې په هدف ورپېژندل سوي دي.

۱) مخ پاته: **مرګ ته تياري...**

يعني دا چي ټول خلک به له خپلو قبرونو بيا راپورته کېږي، هغه ورځ چي نه مال ګټه رسولای سي او نه زامن، نه نوم او نه نښان، نه ملګري، نه آشنايان او نه نور، مګر هغه څوک به ګټمن، سرلوړی او سرفراز وي چي له روغ زړه، غوره افکارو، سمي عقيدې، نېکو عملونو، له شرک، خرافاتو او ګنده هوسونو يې ځان ساتلی وي.

په دغه ورځ به هر سړی د خپلو کړنو او هڅو مسئول وي. که موږ هر څه د خدای له اوامرو سره سم تر سره کړي وي، له کفر او شرک، له ناوړه او ګنده عملونو مو ځان ساتلی او هر څه مو د لوی څښتن د رضا د تر لاسه کولو له پاره تر سره کړي وي، ممکن موږ ته لوی اجر او الهي بخښنه اعلان سي، مګر که مو هر څه په داسي ډول تر سره کړي وي، چي په هغه کي شرک او کفر فسق او فساد او داسي نور نغښتي وي، نو بيا مو د نجات کښتۍ پر غرقېدو ده، را ته په کار دي چي ژر د خدای جل جلاله لوري ته رجوع وکړو، له ګناهونو توبه وباسو، ځکه چي خدای تعالی زموږ په اړه ډېر پوه دئ او فرمايي:

ژباړه: او اې مؤمنانو! ټول د الله لوري ته رجوع او توبه وکړئ چي بريالي سئ!

يعني دا چي اوس توبه وکړئ او دا مه واياست چي ژوند اوږد دی او د توبې کولو فرصت مساوي دی. مه واياست چي زه لا هم ځوان يم، ځکه چي ژوند په بېړه تېرېږي او د هغه ورځي څه څوک ځان نه سي خلاصولای، نو مخکي تر دې چي موږ نړۍ پرېږدو او حساب را سره کېږي، غوره دا ده، چي په خپله له خپلو ځانونو سره حساب وکړو، دنيوي ژوند خو د آخرت په پرتله هسي يوه خطاايستونکې متاع ده او داسي نه چي دا متاع مو له آخرته غافل کړي.

ټولنيزي رسنی

محسن "احسان":

ابو جعفر منصور د بنو اميه د يو حکيم څخه وپوښتل:

ستاسو دولت ولي ړنګ سو؟

حکيم وويل: موږ د غټو کارونو له پاره واړه خلک مقرر کړي وو او د وړو کارونو له پاره مولوی خلک مقرر کړي وو.

Niamatullah Niamat:

پر فېسبوک د ځوانانو مايوسۍ وينم، والله زړه مي ډېر درد وکړي، زه يې په تمامه معنی حس کوم، خو زه ځوانانو ته دا وايم چي هدف معلوم دی، کړنلارو ته تغير ورکړئ، يو موټي سئ، يو او بل ته لاس ور کړئ، يو او بل تر لاس سره ونيسئ، يو او بل و منئ، د يو او بل ملاتړي سئ، يو او بل ته فرصت سئ، د الله تعالی در کړې انرژي، پوهه او امکاناتو څخه اعظمي استفاده وکړئ، له نورو سره يې شريک کړئ چي نور هم ځني مستفيد سي. په کوچني – کوچني اختلافاتو پسي سر مه ګرځوئ، پر کوچنۍ – کوچنۍ خبرو او نيمګړتياوو پسي سر مه ګرځوئ، يو د بل له پاره طاقت سئ، ګټه يو او بل ته په ګټه رسولو کي نغښتې ده، د بل په تاوان کي ګټه لټول ګټه نه ده.

Mohibullah Shubair:

هره ورځ يو نوی مهارت زده کړئ او خپل فکر مثبت وساتئ. په کوچنيو ګامونو سره، تاسو کولای سئ لوی بدلونونه راولئ. ژوند د پرمختګ له پاره دی، پر ځان باور وکړئ او هره ورځ يو ښه نسخه جوړ کړئ. مثبت فکر، لوړ مهارتونه، غوره راتلونکی!

Dr Aman Shams:

د معدې د ناروغيو يو له لويو لاملونو څخه د ايبوپروفن او د دې خاندان له نورو درملو استفاده ده. که د معدې تکليف لرئ، له دې درملو استفاده مه کوئ. د دې پر ځای تاسو د درد له پاره له پرسټامول څخه کار اخيستلای سئ.

عبدالواسع "سمسور":

په ژوند کي هيڅکله مه ناهيلي کېږه او مه نااميده کېږه، مرسته او هوسايي حتماً راځي، دا د الله تعالی وعده ده او د الله تعالی مرسته په يقين سره ډېره نژدې ده.

Naveed Bettani:

هيڅکله خپل ټول اختيار د بل چا په لاس کي مه ورکوئ، بيا به د خپل ځان د خلاصېدو واک هم نه لرئ!

عبدالواسع "سمسور":

په کندهار کي د خوښيو يا ودونو مراسمو کي د شپې ډوډۍ لس بجې شاوخوا ورکوي، دا څه وجه ده؟

تاسو پوهېږئ چي د شپې ناوخته ډوډۍ خوراک ډېر تاوان لري.